مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

استاد شهسوار سنګروال ۲۰۱۸/۰۶/۰۸

آیا کودتا له حیرتانو پیل شوه؟

د تاریخ یوه اوښتي پاڼه:

جنرال مومن چې د دندې ډېره برخه ئې د هېواد په سرحدي سیمو لکه ننګرهار، نیمروز او بیا وروسته په حیرتانو کې تېره کړې وه، د هغې کرکې اوعقدې له مخې چې شهنواز تنې، دی له دندې ګوښه کړ او بیا د یعقوبي په مرسته نجیب الله ته معرفي شو، او په حیرتانو کې په دنده وګمارل شو، نوموړی په دې لټه کې وه چې د یوه توکمپال تاجک په توګه څرنګه خپلې موخې ته ورسېږي؟

د حیرتانو ښارګوټي چې اقتصادي، سیاسي او لوژیستیکي ارزښت درلود، ده په ډېرې اوښیارۍ نه یوازې ګوند او دولتي چارواکي ځانته متوجه کړل بلکې یو شمېر تنظیمي وسلوالې ډلې هم ځان پسې راکاږلې.

نوموړي هغه سیاسي سازمانونه چې له پښتنو سره ئې له پخوا نه توکمیزو ناندریو ته لمن وهله لکه سازا، سفزا، ګروه کار او نور په مهمو دندو وګمارل.

ده خپل ځان د وسلو او پیسو له لارې دومره پیاوړی کړی وو چې نه یوازې د نجیب الله درې پرلپسې فرمانونه ونه منل بلکې هغه ته به ئې سپکې سپورې ویلې.ان تر دې چې د حیرتانو په «سې راهی» کې له جنرال تاج محمد سره په لفظي اخ او ډب کې ښکېل شو.

نجیب الله د دې لپاره چې د شمال پېښې کابو کړي وي د «۲۵» زره په شاوخوا کې خپل باوري وسلوال چې ډېر ئې پښتانه سرتېري ول مزار ته واستول.

ان تر دې چې درې څرخي الوتکې هلمند ته پلان کړې چې د جبار قهرمان وسلوال کابل ته را ولېږدوي، خو جنرال عظیمي هماغه پلان شوې الوتکې په پټه شمال ته واستولې چې د دوستم ځواکونه د کارمل د ډلې په سپارښتنه کابل ته را ورسوي.

د کارمل ډله چې دواړو غاړو ته فعاله وه، داسې ئې مومن او دوستم ته تر غوږه کړه چې نجیب الله دومره په «فاشستي او ناسیونالستي» ناروغیو اخته ده چې په تاجکو او ازبکو باور نلري ۲۵ زره پښتانه سرتېري د دوستم او مومن د ځپلو لپاره شمال ته را لېږلي دي.

بیا نو جنرال دوستم د پیګیر په سپارښتنه او جنرال مومن د کاویاني په ښودنه یو د بل مرستې ته په ډاګه را ودانګل.

د جنرال رفیع او جنرال عظیمي لېږل شمال ته چې ګني د دولت یاغیان له بغاوت او اړدوړ نه راوګرځوي، نه یوازې د دوی هڅې بې ګټې وې بلکې عظیمي چې د کارمل د ډلې له ډېرو باوري کسانو څخه وه پاڅون والو ته په ټینګه وویل چې خپلو غوښتنو ته زور ورکړي.

د هغوی غوښتنې ښکاره وې، چې هغه د اڅک، جنرال تاج محمد او د نجیب الله د نورو پلویانو ګوښه کېدل ول.

عظیمي د خپل رهبر کارمل په سپارښتنه چې خپل غچ او کسات ئې له هېواد نه واخست، له ولسمشر نجیب الله سره د خپلې لیدنې په تړاو کښلې دې چې، زه جمهور رئیس د دلوې په ۲۹ نېټه (۱۳۷۰کال) د ماسپښین په درې بجو وغوښتم او له روغبړ نه وروسته مې ورته وویل:
جنرال دوستم د انقلاب په ټوله موده کې، د هېواد له خپلواکۍ او د خاورې له تمامیت نه دفاع کړېده،... اوس هم د سالنګ، کابل حیرتانو لویه لاره ساتي... ښه به وي چې د دوی وړاندیزونه واورېدل شي... جمعه اڅک کابل ته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولئ

وغواړئ، ستر جنرال ئې کړئ... او زما په ځای ئې وټاکئ. رسول بې خدا هم وغواړئ او د مومن له لنډ پارۍ نه تېر شئ.

نجیب الله ډېر باوري کس جنرال رفیع شبرغان ته واستوو چې دوستم د ده پر وړاندې ونه درېږي، هغه د پخوا په څېر هماغه وړاندیزونه ورته مخته کړل او هغه هم په پټو سترګو ورسره و منل چې جنرال خوشي وال د جنرال اخک، جنرال ساپی د رسول بې خدا، او توریالی د تاج محمد پر ځای وټاکل شي.

له دې سره سره شمالي ټلوالې بیا هم په دې ټینګار کاوه چې جنرال مومن باید نه یوازې خپلې دندې ته دوام ورکړي بلکې د هغه د حیثیت لپاره جمهور رئیس یو ځانګړی فرمان د هغه د بیا ټاکلو لپاره ولیږي.

نجیب الله د دې خبرې په اورېدو ډېر غوسه کېږي، جنرال اخک او رسول بې خدا بېرته مزارشریف ته لېږي چې د تېر په څېر خپلې دندې پر مخ بوځي. د نجیب لومړۍ تېروتنه دا وه چې نوموړي ئې له دندو ګوښه کړل او دوهمه تېروتنه ئې دا وه چې بیا ئې لا ولېږل... له یوې خوا په دغه لړه موده کې خپل نوي او زاړه په دندو ګمارل شوي کسان ډېر بې روحئې کړل، او له بلې خوا شمالي ټلوالې زور واخست، چې بیا ئې مانوکی منګل، شیخ محمد باور، جنرال عتیق الله، جنرال کاوون، جنرال باقي، جنرال خندان، جنرال عمر معلم، جنرال عبدالله، ګوندي او پوځي یو شمېر چارواکي دیوه پلاوي په توګه مزار ته ولیږل.

د دې پلاوي په رسېدو سره ټول پوځونه د تیارسۍ په حال کې وو، او داسې انګېرل کېده چې ښايي د دواړو لورو تر مینځ وسلواله نښته را مینځته شي.

که په شمال کې سیاسي او پوځي سیالي روانه وه، بل لور ته پاکستاني چارواکي، له یو شمېر تنظیمونو سره یو ځای په دې لټه کې ول، که چېرې شمالي ټلواله زور له لارې واک ته ورسېږي، دوی به په راتلونکي حکومت کې بې برخې شي، نو ځکه ئې خپل ځواکونه د خوست له لارې کابل ته را نږدې کول.

کومه خبره چې ټولو غاړو ته ډېره مهمه وه هغه په کابل کې د لوئې جرګې د جوړولو آوازې او انګازې وې چې پخوانی پاچا محمد ظاهر به د هېواد چارې، پر مخ وړي، چې له دې سره پاکستان او ګڼ شمېر تنظیمونه مخالف ول.

نجیب الله چې په وار وار پاکستان ته ګوته نیوله چې غواړي په افغانستان کې وینې توئې کړي بله موخه نه لري. ولې بیا هم نجیب الله د شمال پېښو دومره خواشینی کړی وو چې د پېښو د روان بهیر سم جاج ئې نشو اخستی.

هلته د شمال ټلوالې هڅې کولې چې د دولت پر وړاندې خپلې جنګي مورچلې پیاوړې کړي، دا داسې مهال وه چې نجیب الله د کابل ښار ګوندي فعالین را ټول کړل او په ډېرو لوڅو او بربنډو خبرو ئې د افغانستان د تجزئې خبره را پورته کړه، په دوستم، منصور نادري، او جنرال مومن تور پورې کړ چې د ازاد بیک ازبک په لمسون دوی غواړي افغانستان ووېشي.

ده دا خبره هم وکړه چې «دوستم، ما دوستم کړ» او اوس د یو شمېر کسانو له خوا زما په وړاندې لمسول کېږي. د ده د خبرو یو اړخ د کارمل ډلې ته هم متوجه وو.

ولې نجیب مار لنډی کړ، خو له مینځه ئې یو نه وو. د توکمیزو ناندریو سر لارې ګوندونه سازا، سفزا، همدا رنګه په دولت کې د ننه د کارمل ډلې او په بهر کې تنظیمونه په دې هڅه کې شول چې د نجیب الله د واک پر وړاندې ګډ وسلوال غبرګون ته لار پرانیزي.

د پخوانیو اړیکو له مخې سازایانو په وار وار له مسعود سره ولیدل. خو هغه یوازې په جنرال مومن ځکه باور کولی شو چې هغه تاجک وو. ولې جنرال دوستم او منصور نادري ډېر د باور وړ نه وو. هغه وخت چې جنرال مومن غوښتل په ۱۳۷۰کال د حوت په ۲۸ نېټه په مزارشریف برید وکړي، خپل پلان ئې داسې جوړ کړی وو:

د اسلامي جمیعت ګوند د علم خان په امر او همد ډول د اسلامي حرکت، د اسلامي وحدت او اسلامي انقلابي حرکت ګوندونه باید د «۸۰» فرقې په مرسته مخ په مزار وخوځېږي.

له دې نه دمخه د احمد شاه مسعود، دوستم او سید منصور نادري تر مینځ خبرې اترې پیل شوې وې.

دوستم په دغه مهال د انجنیر مهدي سره د نجیب الله پر وړاندې یوه ګډه ژبه پیدا کړې وه. د اسلامي ګوند امر «عباد» هم ورسره لیدنې کتنې کړې وې. له دوستم سره د مهدي، عباد او عاشور پهلوان لیدنې کتنې، مسعود دې ته و هڅوه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې د نادري او دوستم پلاوو ته مثبت ځواب ووايي، خو په دې شرط چې د ده د باور وړ وګرځي چې دوستم فارياب او جوزجان، سيد منصور نادري، بغلان د مجاهدينو په ګټه د دولت له واک نه ازاد کړي.

جنرال سيد عبدالقدوس «سيد» د دوستم او مسعود د پرلپسې اړيکو په ټينګار د نوموړي له خولې کاږلي دي:

«سرپل، ميمنه او جوزجان مې د لومړي پلان له مخې لاندې کړ او د نجيب پلويان مې ونيول. د بغلان او سمنګانو له نيولو وروسته مو په بلخ د برید پلان جوړ کړ.

له درې لارو مو يرغل وکړ، ۸۰ ومه او ۷۰ومه فرقې د وطن د پرورش ګاه له لوري، د وحدت د ګوند ورونو د چمتال او کود برق، د جميعت ګوند د علم خان او غلام حيدر خان په قوماندې ورته بريدونه شروع کړل.»[1]

د سيد منصور نادري ۸۰ ومه قومي فرقه هم د مزار شريف او حيرتانو «درې راهۍ» ته رسېدلې وه.

دولت له يوې خوا د سيال لوري په پرتله دومره جګړه بيزې وسلې نه لرلې چې د هغوی مقابله وکړي او له بلې خوا د نجيب الله، له لوري د جمعه اخک او نورو تغير او تبديل په پوځي مديريت ناوړه اغېزه وکړه.

دريمه خبره دا چې جنرال عظيمي په هوايي ډګر کې له جمعه اخک، مانوکي منګل او د دولت له نورو پوځي چارواکو سره وليدل، د هغوی ټولې پوځي کمزورۍ ئې جنرال دوستم سره شريکې کړې او دائې ورته وويل چې له هوايي ځواک نه پرته، د دولت پوځي ځواک د دې وړتيا نه لري چې ستاسو پر وړاندې ودرېږي.

د هېښتيا او حيرانتيا خبره خو دا ده چې نجيب الله د کارمل د ډلې يوه وتلې جنرال عظيمي ته څرخي الوتکې په واک کې ورکړې وې چې ګني د شمال ټلواله دې ته وهڅوي چې يوې خپل مينځي روغې جوړې ته ورسېږي. ولې نوموړي لا دې کړکېچ ته لمن وهله او د دولت پوځي کمزورۍ ئې ورته په ګوته کولې.

هغه مهال چې د حوت په ۲۳ نېټه (۱۳۷۰کال) سمنګان د دولت له واکه ووت عظيمي په پلخمري کې وو او پيګير د دوستم په خوا کې ناست وو. لا دغه وخت نجيب الله په دواړو باور کاوه.

لکه څرنګه چې عظيمي ته څرخي الوتکې په واک کې ورکړې وې دا رنګه پيګير هم د دا رنګه امتيازاتو څښتن وه چې يوه پښه ئې په کابل کې وه او بله پښه ئې په شبرغان کې.

پيګير يو ځل بيا نجيب الله ته سپارښتنه وکړه چې جمعه اخک او ملګري ئې کابل ته وغواړي چې د مزار کلابندي ماته شي، ضروري او اړين توکي له حيرتانو نه کابل ته ورسېږي.

نوموړی پرته له دې چې د پيګير رښتنې څېره وپېژني جمعه اخک او ملګري ئې بيا کابل ته غواړي او پيګير هم د حوت په ۲۳نېټه د الوتکې په وسيله له شبرغان نه مزار ته راځي او خلکو ته ډاډ ورکوي چې ډېر زر به جنرال دوستم ځواکونه د مزار شريف ښار ته ننوځي او ټولو بدمرغيو ته به د پای ټکی اېښودل کېږي. په پای کې جنرال دوستم مزار ته له خپلو ځواکونو سره را ننوځي او بيا له پيګير او عظيمي سره ګوري چې له حيرتانو وروسته مزار ته راستانه شوي وو.

جنرال عظيمي پخپله دا مني چې زه او پيګير د دوستم ليدلو ته ورغلو، چې د رسول پهلوان په استوګنځي کې مېشت وو.

د حوت په ۲۷ نېټې (۱۳۷۰ کال) د دوستم او مومن ځواکونه د مزار ښار ته ننوتل او په دا سبا ئې د اسلامي جميعت وسلوال د مولوي علم او د وحدت ګوند جنګيالي د محقق په مشرۍ ښار ته مخه کړه.

د دغو وسلوالو له خوا نه يوازې د مزار شريف ښارلوټ شو، بلکې د حيرتانو او شبرخان بندرونو کې کوم توکي چې ذخيره شوي ول د بانکونو په ګډون ټول د ياغيانو له خوا چور شول. د حکومت يو شمېر پلويان او په دې لړ کې پښتانه مشران پدې نوم چې د نجيب الله ملاتړي دي ونيول شول او زندان ته ئې ټېل وهل.

سيد منصور نادري د اسماعيليه فرقې د ملېشاو قومندان په يوې وينا کې وويل:

هغه سوله چې نجيب الله هېواد ته را نه وړه اوس به موږ په ټول هېواد کې سوله ټينګه کړو. ولې برخلاف لومړی مزارشريف چور شو او ورپسې د شمال نور لوی ښارونه... او په پای کې د همدې لوئې او ملي غميزې اغېزې تر

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کابله را ورسېدې چې په پای کې د هېواد اقتصادي پوځي او فرهنګي شتمنۍ د همدې یاغیانو له خوا لوټ شوه او د نجیب الله حکومت لومړی په شمال او وروسته په کابل کې نسکور شو.

د مخه لا د ببرک کارمل ډلې داسې اندېښنه درلوده چې په کابل کې روان کړکېچ به د دوی ژوند تر ګواښ لاندې را ولې دا ځکه چې دوی انګېرل، د نجیب الله یو پلاوی غواړي د حکمتیار سره خبرې اترې وکړي. که چېرې د اسلامي ګوند وسلوال کابل ته را ننوځي دا ګواښ به څو برابره شي. نو ښه به وي چې د دوی د امنیت لپاره دوستم سره وغږېږي. په سر کې د کورنیو چارو او د دفاع وزارتونو نه منله چې جوزجان ملېشې کابل ته راشي. ولې د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل، د ګوند د سیاسي بېرو غړو کاویاني او مزدک سپارښتنه وکړه چې هرو مرو د جنرال دوستم ځواکونه کابل ته را ولېږدول شي... عبدالرؤف بېګی په خپل کتاب «افغانستان بعد از پیروزي انقلاب اسلامي» کې کښلي دي چې په ۱۳۷۱کال د حمل وري په ۲۶ نېټې ما او عالم رزم له لسو (۱۰) الوتکو سره مزارشریف ته راغلو او د جنرال دوستم سره دې پرېکړې ته ورسېدو چې اوه (۷۰۰) سوه تنه وسلوال د جنرال مجید روزي په قوماندې کابل ته واستوو همدا سې هم وشول، پوځونه په موهمو ځایونو لکه د کابل هوایي ډګر او بالاحصار کې ځای پر ځای کړی شول.

نجیب الله چې تر دغه دمه د هېواد د وسلوالو ځواکونو سر اعلی قومندان وو، د شمالي د ټلوالې له دې پرېکړې نه خبر نه درلوده.

په دې تړاو د جمهور رئیس سلاکار محمد اسحق توخي لیکلي دي چې: «د حمل په ۲۶ نېټې (۱۳۷۱ کال) په هماغه ګړۍ چې د دوستم یاغي ملېشاوې کابل ته ولېږدول شوې زه حاضر وم چې د کورنیو چارو وزیر راز محمد پکتین د تلېفون په کرښه ورته خبر ورکړ. جمهور رئیس، جنرال عبدالفتاح ته چې د هوایي او مدافع هوایي قومندان وه تلیفون وکړ چې راغلي ځواکونه له هوایي ډګره وباسي او د نورو د راتګ مخه ډب کړي...»[2]

د جنرال دوستم د ځواکونو مخه ځکه و نه نیول شوه چې پخپله د دولت پوځي او ګوندي چارواکي لکه جنرال عظیمي او کاویاني... په دې کودتا کې ښکېل ول، دوی په دې لټه کې شول چې د شمالي ټلوالې پنوم یوه شورا جوړه کړي. که څه هم محقق په ډېرې چټکۍ ځان مسعود ته ورسوه. په سر کې دغه شورا چې پایته و نه رسېده جوړه شوه چې رئیس ئې احمدشاه مسعود، مرستیال ئې محقق او پوځي مشر جنرال عبدالرشید دوستم ټاکل شوی وو، دا چې ولې وروسته مسعود له دېنه سرغړونه وکړه ښایي یو لامل به ئې دا وو، ده کوښښ کا وه چې په سر کې دوستم د خپلو سیاسي او پوځي موخو لپاره و کاروي په ځانګړي ډول د حکمتیار په وړاندې. ولې وروسته پېښو وښوده چې د هغه ترشا د ببرک کارمل ډلې شتون درلود او هغه ته ئې داسې سلا ورکوله چې دی د یوه سیاسي او پوځي مشر په توګه وځلېږي.

کله چې نجیب الله په دې پوه شو چې د هېواد واک ئې نور له ګروت نه وتلی دی، په دې لټه کې شو چې له هېواد نه پښې سپکې کړي.

که څه هم ده تر پایه داسې ښوده چې د افغانستان واک لا اوس هم د ده په لاس کې دی. په ځانګړي ډول د مزار پېښې ته ئې هم داسې رنګ ورکوه چې د ده استازی جنرال عظیمي اوس هم د ده د واک سمبول دی.

نوموړي د خپلو پلویانو پر مټ او د کابل په ډله ییزو رسانیو، مهالنیو او ورځپاڼو کې داسې ښودله چې د مزارشریف مبارکه جنډه به د ده د لېږل شوي پلاوي له خوا (په سر کې عظیمي) جګېږي.

که څه هم عظیمي د مزارشریف د دودیزو مراسمو په تړاو د ځان ستاینې په ترڅ کې د نجیب الله په اړه کاږلي دي چې: «ماته دوکتور نجیب الله تلېفون وکړ چې زما رادیو ئې وینا دې واورېده؟ مهمې خبرې مې وکړې او ومې ویل څومره چې زر سوله راشي، د ملګرو ملتو د طرحې پر بنسټ به له دندې استعفا وکړم. ولې واک ته به تر هغې دوام ورکړم تر هغې چې لنډ مهاله حکومت جوړېږي. (موخه ئې ۱۵ کسیزه شورا وه)

ملګری عظیمي، ته غم مه خوره، تا او جنرال دوستم ته څوک څه نشي ویلی. د هغوی موخه زه وم چې پخپله خوښه مې استعفاوکړه. من برایش ګفتم ډاکتر صاحب استعفا شما قبل از وقت است...»

که حقیقت همداسې وي چې ده رښتیا ورته ویلي وي چې استعفا مخکې له وخته ده... خو دا حقیقت دی، ولې دا هم حقیقت دی چې عظیمي پخپله لیکنه کې ډېره مبالغه کړېده، او دا چې څومره د استعفا خبره ده، دا د نجیب الله لویه تاریخي تېروتنه ځکه وه چې د دولت په پوځي او ملکي چارواکو ئې ناوړه اغېزه وکړه او د تنظیمونو لوټ او چور ته ئې لاره اواره کړه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا ځکه چې کابل له جنوب ختیځ او شمال له خوا کلابند شو او د مسعود وسلوالو د مزار له سکوت نه ۲۴ ورځې وروسته د حمل وري په ۲۲ نېټې (۱۳۷۱ کال) سالنګونه او جبل سراج لاندې کړ او دوه ورځې وروسته په ۲۵ نېټې د چاریکار او ښار تر بګرامه پورې د شورای نظار په ولکه کې پرېووت.

نجیب الله چې ولیدل د مسعود ځواکونه (د حمل ۲۵) بګرام ته ورسېدل او د دوستم ځواکونو (۲۶ نېټه) د کابل هوایي ډګر کې ځای پر ځای شول. نو یوه ورځ وروسته د حمل وري په ۲۷ نېټې نجیب الله وپتېله چې له بنین سیوان سره اړیکه ونیسي، چې له کابل نه د ډیلي په نیت هېواد پرېږدي. جنرال مجید روزي او جنرال عبدالرازق چې د مخې د محمود بریالي، کاویاني فرید مزدک او د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل له خوا خبرتیا ترلاسه کړې وه چې نجیب الله د بنین سیوان په ځانګړې الوتکه کې نن له افغانستان نه اوځي.

بنین سیوان هم نجیب ته دا خبره کړې وه چې د لنډ مهال حکومت د پنځلس (۱۵) کسیزې شورا وړاندیز هم دا دی چې دی له افغانستان نه ووځي نو دوی به کابل ته ننوځي.

ولي ولسمشر په خپلو یادښتونو کې دې مسالې ته داسې ګوته نیولې ده: زه په پرلپسې توګه له کابل نه پاکستان ته له بنین سیوان سره په اړیکه کې وم، هغه ماته ډاډ راکړ چې د «کمېټې» کار بشپړ شوی دی او په دې ترڅ کې غوښتنه کړې ده چې د جمعې په ورځ نجیب الله باید له کابل نه بهر شي، او اوس چې پنجشنبې شپه وه یانې د پنجشنبې ورځ دغه کار ترسره شي...

وه مې لیده چې د شپې دوه بجې دي د بنین سیوان درې مرستیالان او دوه سیاسي او یو تن پوځي «لمبریک قصر» ته راغلل او وې ویل چې بنین سیوان د کابل هوایي ډګر کې کلابند دی، نه ئې پرېږدي چې ښکته شي، ورته وایي بېرته والوځه.

تلېفون ته لاړم، ومې لیده چې تلېفون پرې شوی دی او کار نه کوي.

پرته له دې چې خپل موټر ته تم شم، د ملګرو ملتو په موټر کې، زه، جفسر، احمدزی او توخی سپاره شووچې ګارنیزیون ته لاړ شو تر څو معلوم کړو چې ولې بنین سیوان ته اجازه نه ورکوي. موږ ئې په څلورلارو کې ودرولو، شپې نوم مو ورکړ، ځان مې ور وپېژند، راته وئې ویل ومې پېژندلې، رئیس صاحب ئې، خو اجازه نشته... ناڅاپې د ملګرو ملتو دفتر ته لاړم، ګارنیزیون ته مې ټلېفون وکړ چې عظیمي د تلېفون غوږې پورته کړ، ورته مې ویل: هرڅه چې کوې وې کړی خو بنین سیوان ته اجازه ورکړئ، کنه مسؤلیت به ئې د تاسو په غاړه وي. عظیمي راته وویل: صاحب! هوایي ډګر د لوچکانو په لاس کې دی، نپوهېږو چې څه کوي. دا دی زه او دلاور هوایي ډګر ته ځو، بنین سیوان راولو...

څلور بجې وې چې عظیمي راغی رسم و تعظیم ئې وکړ او بنین سیوان هم ورسره وه، راته وې ویل: څو زره پوش او ځواکونه به ستا امنیت ساتي خو پام چې د ملګرو ملتو له دفتر نه ونه اوځې، پدې بنسټ زه په «اسګاپ»کې پاتې شوم.»([3])

د دې لیکنې له مخې ټولې پوښتنې ځواب شوې نه دي بلکې یو شمېر پوښتنې په خپل ځای دي، د ساري په توګه:

۱ – نجیب الله ولې خپل موټر ته تم نشو؟، دا چې تلیفون قطع شوی وه، پکار وو چې یوازې د ده ساتونکي جفسر ګارنیزیون ته تللی وی او یا د ده سلاکار توخي... غوره به وه چې ده د جمهوري ریاست درنښت ساتلی وی.

۲ – دا د پوښتنې وړ دی چې د بنین سیوان مرستیالان راتللی شول او پخپله بنین سیوان ته اجازه نه وه، بله دا چې عظیمي په ډېرې آسانۍ سره ځي او بنین سیوان د ملګرو ملتو دفتر ته راولي.

۳ – هغه مهال چې عظیمي او پیګیر له مزار نه شبرغان ته او له هغه ځایه پرته د نجیب الله له اجازې نه کابل ته راځي او بیا په ګارنیزیون کې د نوکریوال په ډول دنده اجرا کوي پخپله د پوښتنې وړ ده! ولې دا خبره ښکاره ده چې د پوځي کودتا اصلي لوبغاړی عظیمي او سیاسي کودتا چیان محمود بریالی، کاویاني، مزدک، کشتمند، وکیل... ول، دا څنګه شوني وه چې عظیمي، ولسمشر نجیب ته وایي چې ستا امنیت لپاره مې زره پوښ د ملګرو ملتو دفتر ته څېرمه درولی دی...؟

له دې څرګندونو نه بربښي چې کودتا له مخه تنظیم شوې وه، ولې د ډاکتر نجیب الله، وتل هم چې بنین سیوان به راځي او دی به له کابله باسي او ډیلي ته به ئې رسوي یو پلان شوی کار وه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دا سبا بنین سیوان په انترکانتیننتال هوټل کې خبریالانو ته د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: دا چې نجیب الله چېرته دی؟ څه نشم ویلی، دا ځکه چې مساله ډېره پېچلې ده، خو دومره ویلی شم چې له افغانستان نه د هغه ایستل د ملګرو ملتو پلان دی.

جهادي تنظیمونه چې له شمال نه د خیرخانې تر پولو شمال لوېدیځ نه پغمان، جنوب ختیځ نه د چار اسیاب تر پولو پورې رسېدلي ول، احمدشاه مسعود، د ګلبدین حکمتیار له وېرې غوره و ګڼله چې د کارمل له ډلې او په ځانګړې ډول له جنرال دوستم سره یوځای د هغه مقابله وکړي.

نو په همدې بنسټ د بېلابېلو وسلوالو تنظیمونو استازي پدې نیت چې د افغانستان د اسلامي جهاد یوه عالي شورا را مینځته کړي، د دوی او د دولتي متحدینو په ګډون جبل السراج ته راغلل چې د کابل د اداري د واک چارې د یوه لنډ مهاله تشکیل له مخې ترلاسه کړي، نو ځکه خو دغه شورا د همدې موخې لپاره را مینځته شوه.

---

[1] سید، عبدالقدوس جنګهای کابل ۱۲۴ – ۱۲۵مخونه.
[2] توخي محمد اسحق کودتای حمل سال ۱۳۷۱، صفحه ۴۱.
[3] د نجیب الله خپله لیکنه د وطن یا کفن مهالنۍ لومړی کال دومه ګڼه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ